لقمان حکیم حکمت

# نبوي وړاندويني



www.larkhud.com

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# نبوي وړاندويني

**ليكوال:**

لقمان حکيم حکمت

کال ۱۶/۶/۲۰۲۰م

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# یادونه:

په ټولنیزو رسنیو کې د اسلامي لارښود سایټ د نوم په یادونې سره هر چاته دکتاب نشرولو اجازه ده، خو په کتاب کې بدلون او تغیر راوستل او یا په خپل نوم د خپلې لوګو سره خپرول اخلاقي او شرعي جرم دي ، خو زمونږ له بیا ځلې یادونه سره بیا هم دا ناوړه کړنه د فیسبوک او ټلیګرام په لیکه ځینې تش په نامه مکتبې ترسره کوي، باید په راتلونکي کې له دې پلیت او قبیحه عمل څخه جدي ځان وساتي.

**په درنښت**

**د اسلامي لارښود سایټ اداره**



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner




الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

د چاپونې ټولې رښتې د ژباړن سره خوندي دي

## د کتاب ځانګړنې

---

د کتاب نوم: نبوي وړاندوینې

لیکنه : لقمان حکیم حکمت

کمپوز : ژباړن

چاپ کال : ۲۰۲۰م

چاپ شمېر: ناچاپ

خپرندوی: اسلامي لارښود سـایټ

---

هیواد والو د دیني پوهاوی باورې سرچینه

Www.larkhud.com

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

## پېلیزه

الحمد لله، والصلاة والسلام على رسول الله، وعلى آله وأصحابه ومن والاه، ومن دعا بدعوته ومن اهتدى بهداه.

وبعد: څومره چې په زمانه کې اختلاف راځي هومره ورسره خلک رنګ بدلوي، څومره چې زمانه مخکې روانه ده هومره خلک له دين څخه لرې وځي، ديني احکام ورته نا اشنا ښکاري، حتى په ديني احکامو پسې ملنډې وهل هم ورته دين ښکاري او په ديني جذبه باندې دغه معصيت کوي.

په دې حديثونو کې د ټولو هغو احکام ذکر دی چې په متن کې يې ( يَأْتِيْ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ ) کلمات راغلي وي، که څه هم دا ډول حديثونه د دين له مختلفو اړخونو سره اړيکه لري خو مونږ هر حديث ته عنوان ورکړی دی او بيا مو ورله



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ژباړه پـه سـاده پښـتو بانـدې کـړې ده، ترڅـو لـه واعظينـو، د اسـلامي احکـامو د پيژنـدګلو وړو تـږو او پـه اسـلامي تعليماتـو باندې له مئين انسانانو سره مرستندويه ثابت شي.

الله پاک دې لـه مـونږ څخـه دا عمـل قبـول کـړي ، الله پـاک ښـه ذموار او ښه کار ساز دی، ولا حول ولا قوة الا بالله.

**لقمان حکيم حکمت**

**Hekmat.٣٤٤@gmail.com**



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

**١ - : د صحابه کرامو، د تابعينو، او د تبع التابعينو فضيلتونه:**

عَـنْ أَبِي سَـعِيدٍ الخُـدْرِيُّ رَضِيَ اللهُ عَنْـهُ قَـالَ: قَـالَ رَسُـولُ اللَّهِ صَـلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ يَأْتِي عَـلَى النَّـاسِ زَمَـانٌ، فَيَغْـزُو فِئَـامٌ مِـنَ النَّـاسِ، فَيَقُولُـونَ: فِـيكُمْ مَـنْ صَـاحَبَ رَسُـولَ اللَّهِ صَـلَّى اللهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ؟ فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، فَيُفْتَحُ لَهُمْ، ثُمَّ يَـأْتِي عَـلَى النَّـاسِ زَمَـانٌ، فَيَغْـزُو فِئَـامٌ مِـنَ النَّـاسِ، فَيُقَـالُ: هَـلْ فِـيكُمْ مَـنْ صَـاحَبَ أَصْـحَابَ رَسُـولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ؟ فَيَقُولُـونَ: نَعَـمْ، فَيُفْـتَحُ لَهُـمْ، ثُـمَّ يَـأْتِي عَـلَى النَّـاسِ زَمَـانٌ، فَيَغْـزُو فِئَـامٌ مِـنَ النَّـاسِ، فَيُقَـالُ: هَـلْ فِـيكُمْ مَـنْ صَاحَبَ مَـنْ صَـاحَبَ أَصْـحَابَ رَسُـولِ اللَّهِ صَـلَّى اللهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ؟ فَيَقُولُـونَ: نَعَـمْ، فَيُفْـتَحُ لَهُـمْ ] ( صـحيح البخـاري: ٣٦٤٩، صـحيح مسلم:٢٥٣٢)

ژبـاړه: لـه ابوسـعيد خـدري رضي الله عنـه نـه روايـت دی چـې رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم فرمـايي: پـه خلکـو بـه داسـې زمانه راشي چې يوه ډله بـه غـزا کـوي، يـوه ډلـه بـه ووايـي: ايـا پـه تاسـو کـې څـوک شـته چـې لـه رسـول الله صـلى الله عليـه

وسلم سره يې ملګرتوب کړی وي؟ دوی به ووايي: هو، فتح به ورکړل شي، بيا به په خلکو داسې واخت راشي يوه ډله به غزا کوي، وبه ويل شي؟ ايا په تاسو کې داسې څوک شته چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له ملګرو سره يې صحبت کړی وي؟ دوی به ووايي: هو، نو فتح به ورکړل شي، بيا په خلکو داسې وخت راشي چې يوه ډله به غزا کوي، وبه ويل شي: ايا په تاسو کې داسې څوک شته د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ملګرو له مګرو سره يې صحبت کړی وي؟ دوی به ووايي: هو، نو فتح به ورکړل شي، بيا په خلکو داسې زمانه راشي چې د غزا لپاره به راپورته شي، وبه ويل شي: ايا په تاسو کې داسې څوک شته چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ملګرو د ملګرو له ملګرو سره يې صحبت کړی وي، دوی به ووايي: هو شته، نو فتح به ورکړل شي.

**۲ - : هغه وخت چې څوک به ورپکې مالي خيرات نه اخلي:**



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

عَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ رضي الله عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: [ تَصَدَّقُوا فَسَيَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَمْشِي الرَّجُلُ بِصَدَقَتِهِ، فَلاَ يَجِدُ مَنْ يَقْبَلُهَا] ( صحيح البخاري: ٧١٢٠ ).

ژباړه: له حارثة بن وهب رضي الله عنه نه روايت دی چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اوريدلي دي ويل يې: مالي خيراتونه وکړئ، په خلکو به داسې وخت راشي چې يو سړی به پيادل خپله صدقه گرځوي او داسې څوک به نه مونده کوي چې صدقه يې قبوله کړي.

**٣ - : داسې وختونه چې د حرامو او حلالو توپير به ختم شي:**

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ، لاَ يُبَالِي المَرْءُ بِمَا أَخَذَ المَالَ، أَمِنْ حَلاَلٍ أَمْ مِنْ حَرَامٍ ] ( صحيح البخاري: ٢٠٨٣ ).

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: په خلکو به داسې زمانه خامخا راشي



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

چې څوک به د دې پرواګیر نه وي چې مال یې له حلالو او که له حرامو څخه راواخست.

**۴ - : ایمان لویه سرمایه ده:**

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ [ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ، تَكُونُ الغَنَمُ فِيهِ خَيْرَ مَالِ المُسْلِمِ، يَتْبَعُ بِهَا شَعَفَ الجِبَالِ، أَوْ سَعَفَ الجِبَالِ فِي مَوَاقِعِ القَطْرِ، يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنَ الفِتَنِ ] ( صحيح البخاري: ۳۶۰۰ ).

ژباړه: له ابوسعید خدري رضي الله عنه نه روایت دی چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي ویل یې: په خلکو به داسې وخت راشي چې د مسلمان غوره ترینه شتمني به پکې ګډې بزې وي، د غرونو سرونو کې به یې باراني ځایونو ته بوځي، په دې خاطر چې د فتنو له کبله خپل دین وتښتوي.

**۵ - : د نارینه و کمښت لویه فتنه ده:**



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

عَـنْ أَبِي مُـوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْـهُ، عَـنِ النَّبِـيِّ صَـلَّى اللهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ قَالَ: [ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّـاسِ زَمَـانٌ يَطُـوفُ الرَّجُلُ فِيـهِ، بِالصَّـدَقَةِ مِـنَ الـذَّهَبِ، ثُـمَّ لاَ يَجِـدُ أَحَـدًا يَأْخُـذُهَا مِنْـهُ، وَيُـرَى الرَّجُـلُ الوَاحِـدُ يَتْبَعُهُ أَرْبَعُونَ امْرَأَةً يَلُـذْنَ بِـهِ، مِـنْ قِلَّـةِ الرِّجَـالِ وَكَـثْرَةِ النِّسَـاءِ ] ( صحيح البخاري: ١٤١٤ ، صحيح مسلم: ١٠١٢).

ژباړه: لـه ابـو موسـى اشـعري رضي الله عنـه نـه روايـت دى چـې نبي كريم صـلى ا لله عليـه وسـلم فرمـايي: خامخـا بـه پـه خلكـو داسـې زمانــه راشي چــې ســړى بــه ورپكــې د سرو زرو صــدقه گرځوى خو څوک مونده نـه كـړي چـې وايـې اخلي، يـو سـړى به ووينې څلوېښت ښځې به ورتـه پنـاه وړي - يـو سـړى بـه يـې پالي - پـه دې خاطر چې خلک به كم او ښځې به ډېرې وي.

**٦ - : ناحقه قتل لويه فتنه ده:**

عَـنْ أَبِي هُرَيْـرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْـهُ قَـالَ: قَـالَ النَّبِـيُّ صَـلَّى اللهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ: [ وَالَّـذِي نَفْسِيـ بِيَـدِهِ لَيَـأْتِيَنَّ عَـلَى النَّـاسِ زَمَـانٌ لَا يَـدْرِي



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

الْقَاتِـلُ فِي أَيِّ شَيْءٍ قَتَـلَ، وَلَا يَـدْرِي الْمَقْتُـولُ عَـلَى أَيِّ شَيْءٍ قُتِـلَ] ( صحيح مسلم: ۲۹۰۸ ).

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنـه نـه روايـت دی چې نبـي کـريم صلی الله عليه وسلم فرمـايي: زمـا دې پـه هغـه الله قسـم وي چې زما نفـس يـې پـه لاس کـې دی پـه خلکـو بـه داسـې زمانـه راشي چې قاتل به نه پوهيږي پـه څـه خـاطر يـې قتـل وکـړ، او مقتـول به نه وي خبر چې په څه خاطر ووژل شو.

**۷ - : د مدينې منورې فضيلت:**

عَـنْ أَبِي هُرَيْـرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْـهُ أَنَّ رَسُـولَ اللهِ صَـلَّى اللهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ قَـالَ: [ يَـأْتِي عَـلَى النَّـاسِ زَمَـانٌ يَـدْعُو الرَّجُـلُ ابْـنَ عَمِّـهِ وَقَرِيبَـهُ: هَلُمَّ إِلَى الرَّخَـاءِ، هَلُـمَّ إِلَى الرَّخَـاءِ، وَالْمَدِينَـةُ خَـيْرٌ لَهُـمْ لَـوْ كَـانُوا يَعْلَمُونَ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَـدِهِ، لَا يَخْرُجُ مِنْهُمْ أَحَـدٌ رَغْبَـةً عَنْهَـا إِلَّا أَخْلَـفَ اللهُ فِيهَـا خَـيْرًا مِنْـهُ، أَلَا إِنَّ الْمَدِينَـةَ كَـالْكِيرِ، تُخْـرِجُ الْخَبِيثَ، لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّـى تَنْفِـيَ الْمَدِينَـةُ شِرَارَهَـا، كَـمَا يَنْفِـي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ] ( صحيح مسلم: ۱۳۸۱ ).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: په خلکو به داسې وختونه راشي چې سړی د خپل تره ځوی او خپل خپلوانو رابلي چې دلته سهولتونو او اسانتياو ته راشئ او حالانکه مدينه به ورله له نورو ځايونو نه ډېره غوره وي خو که دوی پوهيدای، زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما نفس يې په لاس کې دی که څوک له مدينې سره د کمې مينې له کبله ووځي نو مدينه کې به الله پاک له ده نه غوره خلک راولي، خبردار مدينه د بټۍ مثال لري چې په ځان باندې زنګ نه پريږدي، تر هغه به د قيامت ورځ را نه شي چې تر څو مدينه له ځان څخه شرپسند خلک داسې اوباسي لکه د بټۍ اور چې له اوسپنې څخه زنګ لرې کوي.

**۸ - : يوه ورځ له بلې بدتره وي:**

عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ عَدِيٍّ، قَالَ: أَتَيْنَا أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَشَكَوْنَا إِلَيْهِ مَا نَلْقَى مِنَ الحَجَّاجِ، فَقَالَ: [ اصْبِرُوا، فَإِنَّهُ لاَ يَأْتِي



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

عَلَيْكُمْ زَمَانٌ إِلَّا الَّذِي بَعْدَهُ شَرٌّ مِنْهُ، حَتَّى تَلْقَوْا رَبَّكُمْ» سَمِعْتُهُ مِنْ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ] ( صحيح البخاري: ٧٠٦٨ ).

ژباړه: زبير بن عدي وايي: مونږ انس بن مالک رضي الله عنه ته راغلو او له حجاج بن يوسف له ظلمونو څخه مو ورته ګيله وکړه، هغه وويل: له صبر او زغم نه کار واخلئ، په تاسو باندې وختونه نه راځي مګر وروستنی به يې له مخکني څخه بدتر وي ترڅو له خپل رب سره مو ملاقات وشي، همداسې مې ستاسو له نبي صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي.

**٩ - : دايمان غلاجن:**

عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: [ يَأْتِي فِي آخِرِ الزَّمَانِ قَوْمٌ، حُدَثَاءُ الأَسْنَانِ، سُفَهَاءُ الأَحْلاَمِ، يَقُولُونَ مِنْ خَيْرِ قَوْلِ البَرِيَّةِ، يَمْرُقُونَ مِنَ الإِسْلاَمِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ، لاَ يُجَاوِزُ إِيمَانُهُمْ حَنَاجِرَهُمْ، فَأَيْنَمَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاقْتُلُوهُمْ، فَإِنَّ قَتْلَهُمْ أَجْرٌ لِمَنْ



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

قَتَلَهُمْ يَوْمَ القِيَامَةِ ] ( صحيح البخاري: ۳۶۱۱، صحيح مسلم: ۱۰۶۶ ).

ژباړه: علي رضي الله عنه وايي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي ويل يې: په اخره زمانه کې به داسې خلک راشي چې کم عمره هلکان به وي او کم عقل به وي، له خلکو نه به ښې خبرې کوي خو له اسلام څخه به دومره پاک ووځي ( مړه شي ) لکه غشی چې له ښکار څخه له وينو نه پاک وځي، ايمانونه به يې له مرۍ څخه پورته نه خيژي، چې چرته مو ورسره ملاقات وشي مړه يې کړئ، د قيامت به ورځ د دوی قتل د هغه چا لپاره اجر او ثواب دی چې مړه کړي يې وي.

**۱۰ - : د جالان د اخري زماني نښه ده:**

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ يَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ، يَأْتُونَكُمْ



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

مِنَ الْأَحَادِيثِ بِمَا لَمْ تَسْمَعُوا أَنْتُمْ، وَلَا آبَاؤُكُمْ، فَإِيَّاكُمْ وَإِيَّاهُمْ، لَا يُضِلُّونَكُمْ، وَلَا يَفْتِنُونَكُمْ ] ( صحيح مسلم: ٧ ).

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: په اخره زمانه کې به داسې دوکه مار دروغجنان راشي او داسې خبرې به درته کوي چې تاسو لا څه چې پلارانو به هم نه وي اوريدلي، ځانونه ورڅخه وساتئ، پام چې نه مو ګمراه کړي او نه مو په ازمېښت کې واچوي.

**١١ - : نبوي مجلسونه د خير او برکت مجلسونه دي:**

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ [ ... وَلَيَأْتِيَنَّ عَلَى أَحَدِكُمْ زَمَانٌ، لَأَنْ يَرَانِي أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ أَنْ يَكُونَ لَهُ مِثْلُ أَهْلِهِ وَمَالِهِ] ( صحيح البخاري: ٣٥٨٧ ).

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: ... او په تاسو کې به په يو چا داسې وخت هرومرو راشي چې که ما ووينې - زما ليدل به ورته - له خپل مال او کورني غړيو څخه ډېر بهتر وي.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

**۱۲ - : ديني استقامت په اور کې د ودرېدو مثال لري:**

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ الصَّابِرُ فِيهِمْ عَلَى دِينِهِ كَالقَابِضِ عَلَى الجَمْرِ] ( سنن الترمذي: ۲۲۶۰ ).

ژباړه: له انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: په خلکو به داسې وختونه راشي په دين باندې صبر کونکی انسان به داسې وي لکه سکروټو چې يې لاسونه موټې کړي وي.

**۱۳ - : د ماموراتوپه لسمه برخه عمل کول به نجات وي:**

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ إِنَّكُمْ فِي زَمَانٍ مَنْ تَرَكَ مِنْكُمْ عُشْرَ مَا أُمِرَ بِهِ هَلَكَ ثُمَّ يَأْتِي زَمَانٌ مَنْ عَمِلَ مِنْهُمْ بِعُشْرِ مَا أُمِرَ بِهِ نَجَا ] ( سنن الترمذي: ۲۲۶۷ ).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: تاسو په داسې زمانه کې ياست چې که څوک د ماموراتو لسمه برخه پرېږدي نو هلاک به شي، بيا به داسې زمانه راشي چې که لسمه برخه د ماموراتو څوک عملي کړي نو نجات به ومومي.

**۱۴ - : درذيله خلکو زمانه:**

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «كَيْفَ بِكُمْ وَبِزَمَانٍ» أَوْ «يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَ زَمَانٌ يُغَرْبَلُ النَّاسُ فِيهِ غَرْبَلَةً، تَبْقَى حُثَالَةٌ مِنَ النَّاسِ، قَدْ مَرِجَتْ عُهُودُهُمْ، وَأَمَانَاتُهُمْ، وَاخْتَلَفُوا، فَكَانُوا هَكَذَا» وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ، فَقَالُوا: وَكَيْفَ بِنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «تَأْخُذُونَ مَا تَعْرِفُونَ، وَتَذَرُونَ مَا تُنْكِرُونَ، وَتُقْبِلُونَ عَلَى أَمْرِ خَاصَّتِكُمْ، وَتَذَرُونَ أَمْرَ عَامَّتِكُمْ ] ( سنن أبي داود: ۴۳۴۲ ).

ژباړه: عبدالله بن عمرو رضى الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: په هغه وخت کې به مو څه حال وي چې خلک پکې چڼ کړى شي او رزيله خلک پاتې



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

شي، لوظونه او امانت به یې فاسد شوي وي او اختلافات به کوي او داسې به وي - هغه د خپلو لاسونو ګوتې یو بل کې ورکړې - صحابه کرامو وویل: مونږ باید څه وکړو؟ هغه وویل: چې څه پېژنئ هغه واخلئ (عمل پرې وکړئ) او چې څه نه پېژنئ (ثبوت نه لري) نو هغه پرېږدئ، د خاصو خلکو کارونه به کوئ او دعامو هغه به پرېږدئ.

**۱۵ - : د بیت المقدس ارمان:**

عن أبي ذر رضي الله عنه:أنه سأَلَ رسولَ الله - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عن الصلاةِ في بيتِ المقدسِ أفضلُ، أو في مسجدِ رسولِ الله - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -؟ فقال:"صلاةٌ في مسجدي هذا، أفضلُ من أربعِ صلواتٍ فيه، ولنعمَ المصلى، هو أَرضُ المحشرِ والمنشر، وليأتين على الناسِ زمانٌ ولَقِيدُ سوطِ -أو قال: قوسِ- الرجلِ حيث يَرى منه بيتَ المقدسِ؛ خيرٌ له أو أَحبُّ إليه من الدنيا جميعاً] ( صحيح الترغيب والترهيب: ۱۱۷۹ ).

ژباړه: له ابوذر رضي الله عنه نه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې وپوښتل چې په بیت المقدس



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

او که په مسجد نبوي کې لمونځ غوره دی؟ هغه ورته وویل: زما په مسجد کې یو ځل لمونځ کول په مسجد اقصی کې له څلور ځله لمونځونو نه غوره دی، خو بیت المقدس ډېره ښه لمونځګاه ده، هغه ځای د محشر او منشر ځمکه ده،په خلکو کې به داسې زمانه راشي چې د لیندې یا چابک په څېر ځای ولري او بیت المقدس ورڅخه ووینې د ټولې دنیا څخه به ورته غوره وي.

**١٦ - : په دین کې د ولږې د برداشت کولو فضیلت:**

عن عبد الله بن مسعودٍ رضي الله عنه قال: نَظر رسولُ الله - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إلى الجوع في وجُوه أصْحابِه فقال:"أبْشِروا؛ فإنَّهُ سيأْتي عليكم زَمانٌ يُغْدى على أحدِكم بالقَصْعَةِ مِنْ الثَّرِيدِ، ويُراح عليه بمِثْلِها".قالوا: يا رسولَ الله! نحن يومئذٍ خيرٌ؟ قال:"بلْ أنْتم اليومَ خيرٌ منكُم يومَئذٍ". ] ( صحيح الترغيب والترهيب: ٣٣٠٨).

ژباړه: له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو ملګرو په مخونو کې



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ولړه محسوس کړه، ورته يې وويل: مبارک مو شه، ډېر زر به درباندې داسې وختونه راشي چې سهار ماښام به تاسو کې يو نفر ته د ماتې ډوډۍ کاسه راوړل کيږي، دوی وويل: د ا لله رسوله! ايا مونږ به دغه مهال غوره يو؟ هغه وويل: له دغو ورځو څخه تاسو نن ورځ ډېر بهتر يئ.

**۱۷ - : د ديني علماؤ کمښت فتنه ده:**

عَنْ أَبِي ذَرٍّ - رضي الله عنه - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم -: [إِنَّكُمُ الْيَوْمَ فِي زَمَانٍ كَثِيرٍ عُلَمَاؤُهُ، قَلِيلٍ خُطَبَاؤُهُ، مَنْ تَرَكَ عُشْرَ مَا يَعْرِفُ فَقَدْ هَوَى، وَيَأْتِي مِنْ بَعْدُ زَمَانٌ كَثِيرٌ خُطَبَاؤُهُ، قَلِيلٌ عُلَمَاؤُهُ، مَنِ اسْتَمْسَكَ بِعُشْرِ مَا يَعْرِفُ فَقَدْ نَجَا ] ( سلسلة الأحاديث الصحيحة: ۲۵۱۰ ]

ژباړه: له ابوذر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: تاسو په داسې زمانه کې ياست چې علماء يې ډېر او خطيبان يې کم دي، که څوک د معلوماتو لسمه برخه پريږدي نو ګمراه به شي، خو ولې داسې زمانه به وروسته راشي چې خطيبان به يې ډېر او



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

عالمان به یې کم وي، کـه څـوک د خپلـو معلومـاتو لسـمه برخـه باندې هم عمل وکړي نو نجات به ومومي.

هیواد والو د دیني پوهاوي باورې سرچینه
Www.larkhud.com



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner